## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

۱۹ سنبله _سال ۱۴۰۲

خبرنامه



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


| عنوان | صفحه |
|---|---|
| هرات کې د راستنېدونکو او بېځایه شوو ستونزو ته د لاسرسي په موخه ناسته ترسره شوه--------- | 1 |
| له ایران څخه سلګونه افغان مهاجر وطن ته راستانه شول ----------------------------------------- | 1 |
| بامیانو کې ۱۰۰ کورنیو سره د لمریزې برېښنا د وسایلو مرستې وشوې -------------------------- | 2 |
| په یو شمېر ولایتونو کې له ۱۵ زرو زیاتو کورنیو سره مرستې شوې ------------------------------ | 3 |
| له ایرانه تر زرو ډېر افغان کډوال افغانستان ته ستانه شوي ----------------------------------------- | 4 |
| کرواسیا در یک شب مانع ورود حدود ۶۰۰ مهاجر شد -------------------------------------------- | 5 |
| دریای اژه: نیروهای ترکیه و یونان حدود ۲۰۰ مهاجر را نجات دادند ------------------------------ | 7 |
| لغزش زمین در بدخشان 323 خانه را ویران کرده است ------------------------------------------- | 8 |
| د سالنګ لویه لاره به سر له ننه تر نامعلومې نېټې پورې بنده وي --------------------------------- | 8 |
| مراکش کې مرګونې زلزله؛ د مړو شویو کسانو شمېر ۱۰۳۷ ته لوړ شوی ------------------------- | 9 |

# متن کامل اخبار

## هرات کې د راستنېدونکو او بېځایه شوو ستونزو ته د لاسرسي په موخه ناسته ترسره شوه

د وزارت وېب پاڼه



د هرات ولایت د مهاجرینو چارو د رئیس په مشرۍ په دغه ولایت کې د راستنېدونکو او بېځایه شوو ستونزو ته د لاسرسي په موخه د وږي په ۱۸مه ناسته ترسره شوه.

په یاده ناسته کې، چې د مهاجرینو چارو وزارت د مرستو د همغږۍ رئیس شیخ عبدالرحمن رحماني، د ولایت مقام او مرستندویه بنسټونو د استازو په ګډون ترسره شوې وه، په دغه ولایت کې د مهاجرینو پر وضعیت خبرې وشوې او ګډونوالو خپل نظرونه وړاندې کړل.

د یادې ناستې ګډونوالو ژمنه وکړه، چې په هرات ولایت کې به د راستنېدونکو او بېځایه شوو د وضعیت د ښه والي په برخه کې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست سره همکاري کوي.

## له ایران څخه سلګونه افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت وېب پاڼه



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



له ایران څخه ۸۷۱ تنه افغان مهاجر د وږي په ۱۶ مه هېواد ته راستانه شول.

د هرات ولایت د اسلام قلعې د سرحدي آمر په خبره په یادو راستنېدونکو کورنی او مجردان شامل ول، چې له ډلې يې ۴۶۷ تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول، چې د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ورسره وشوې.

## باميانو کې ۱۰۰ کورنيو سره د لمريزې برېښنا د وسايلو مرستې وشوې

د وزارت وېب پاڼه



د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له لوري د باميانو ولايت د مهاجرينو چارو آمريت په همکارئ ۱۰۰ کورنيو سره د لمريزې برېښنا د وسايلو مرستې وشوې.

يادو کورنيو هرې کورنۍ ته د وړې په ۱۶مه دوه دوه ۳۰۰ واټه تختې او دوه ۲۰۰ امپيره بطرئ سره د وسايلو ووېشل شوې.

## په يو شمېر ولايتونو کې له ۱۵ زرو زياتو کورنيو سره مرستې شوې

د وزارت وېب پاڼه



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




په ولایتونو کې د مهاجرینو چارو وزارت د دویمي واحدونو له لارې د وري له ۱۱مې څخه تر ۱۶مې نېټې پورې د هېواد په ۶ ولایتونو کې پېنځلس زره او ۳۶۶ کورنیو سره مرستې شوې.

یادې کورنۍ، چې د تېرو جګړو او طبیعي پېښو له امله په هرات، بادغیس، بلخ، ننګرهار، سمنګان او بدخشان ولایتونو کې بېځایه شوې وې د یادو ولایتونو د مهاجرینو چارو ادارو په همکارۍ د یو شمېر نړیوالو همکارو مرستندویه بنسټونو له لوري هرې کورنۍ سره په بېلابېلو کټګوریو کې نغدي مرستې شوې.

## له ایرانه تر زرو ډېر افغان کډوال افغانستان ته ستانه شوي

مهاجر نیوز



د افغانستان د کډوالو چارو وزارت ویلي، دغه کډوال په تېرو دوو ورځو کې د اسلام کلا له لارې افغانستان ته ستانه شوي.

د طالبانو حکومت د کډووالو د چارو وزارت پر د ټولنیزو رسنیو پر ایکس شبکه چې مخکې ټویټر بلل کیده، لیکلي چې له ایرانه یو زر او ۱۶ تنه افغان کډوال افغانستان ته ستانه شول. د وزارت له خوا زیاته شوې: «د هرات ولایت د اسلام قلعې سرحدي آمر په خبره په یادو راستنېدونکو کې کورنۍ او مجردان شامل وو، چې له ډلې یې ۵۵۸ تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول، چې د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ورسره وشوې«.

[بلجیم: مجردو کډوالو ته د سرپناه د نه ورکولو له امله سازمانونو محکمې ته شکایت کړی]

طالبانو نه دي ویلي چې دغه کډوال په خپله خوښه ستانه شوي او که د ایران حکومت په اجباري ډول شړلي، خو ایران له تېرو څو کلونو د هغو افغان کډوالو په زور اېستلو لړۍ پیل کړې چې په دغه هېواد کې د اوسېدو قانوني اسناد نه لري.

د طالبانو حکومت نیږدې هره اونۍ له پاکستان او ایران څخه د زرګونو افغان کډواالو د ورستنېدو خبر ورکوي، د رپوټونو له مخې دا هغه افغانان دي چې پاکستان او ایران یې په زور له دغو هېوادونو باسي.

[یونان: په غلطه ۳ کاله بندي شوي افغان کډوال ته نږدې ۱۶۰۰۰ یورو غرامت ورکول کېږي]

د طالبانو حکومت د کډوالو چارو وزارت د شمېرو پر بنسټ، دوه میلیونه او ۸۸ زره ۵۴۳ افغان کډوال له بیلابیلو هېوادونو افغانستانه ته ستانه شوي دي.

## کرواسیا در یک شب مانع ورود حدود ۶۰۰ مهاجر شد

مهاجر نیوز



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

وزیر داخله کرواسیا اعلام کرد که نیروهای مرزی شب چهارشنبه از ورود حدود ۶۰۰ مهاجر به این کشور جلوگیری کرده‌اند. او گفت که در سال جاری شمار مهاجران به طور چشمگیری افزایش یافته و قرار است یک مرکز ثبت مهاجران در نزدیکی زاگرب افتتاح گردد.

داوور بوزینوویچ، وزیر داخله کرواسیا، در یک کنفرانس خبری اعلام کرد که شمار بی سابقه‌ای از مهاجران چهارشنبه شب تلاش کردند از مرز عبور کرده و وارد کرواسیا شوند. او گفت که نیروهای مرزی از ورود حدود ۶۰۰ مهاجر جلوگیری کردند. وزیر داخله افرود که مهاجران به ویژه از آفریقا و خاورمیانه تلاش دارند به اروپا بیایند و به همین دلیل همه کشورهای اروپایی با فشار مواجه هستند.

او در ادامه گفت: «کسانی که وارد می شوند، مطابق با قوانین اروپا، حقوق خاصی دارند و ما با تنظیم قوانین خود به حقوق آنها احترام می گذاریم. به این معنی که آنها را به صورت سازمان یافته به مراکز ثبت انتقال می‌دهیم«.

در همین زمینه :کرواسیا: پنج مهاجر اخراج شده به بوسنیا، به شورای قانون اساسی شکایت کردند

**گشایش یک مرکز مهاجرت در نزدیکی کرنجاک**

وزیر کشور همچنین اعلام کرد که یک مرکز ثبت مهاجران در نزدیکی کرانجاک در منطقه کارلواچ افتتاح خواهد شد. کرنجک شهر کوچکی است که در ۷۵ کیلومتری شمال غرب زاگرب، پایتخت کرواسیا قرار دارد.

۵۵ ساختمانی که این مرکز ثبت مهاجران در آنجا گشایش خواهد یافت در گذشته یک مرکز آموزش نظامی بود.

هفته گذشته، حدود ۱۰۰ نفر از ساکنان محل در اعتراض به تبدیل این سختمان‌های متروک به مرکز مهاجران اعتراض کردند.

وزیر داخله در واکنش به این اعتراض‌ها گفت: «انتقال مهاجران از مراکز شهرها و پارک‌های عمومی به نفع همه است. ما می‌توانیم تمام وظایف اداری را که باید مطابق با قوانین اروپایی و ملی انجام دهیم، در ساختمان‌های بالای کرنجاک متمرکز و در عین حال شرایطی را ایجاد کنیم که شهروندان ما تا حد امکان کمتر این احساس را داشته باشند.«

**دستگیری بیش از ۸۵۰ قاچاقبر انسان**

به گفته وزیر داخله همزمان با موج مهاجران، تعداد قاچاقبران نیز به میزان قابل توجهی افزایش یافته است.

او گفت که در سال جاری پولیس کرواسیا بیش از ۸۵۰ قاچاقبر انسان را دستگیر کرده و این رقم یک ریکارد محسوب می‌شود.

در همین زمینه :کرواسیا ۱۱ تن را به اتهام قاچاق انسان دستگیر کرد

کرواسیا یکی از کشورهای حوزه بالکان و عضو اتحادیه اروپاست که مهاجران برای رسیدن به اروپای غربی، از آن عبور می‌کنند. این کشور بارها به عقب راندن غیرقانونی مهاجران از مرزهایش متهم شده است.

سازمان‌های حمایت از مهاجران می‌گویند که قبل از عضویت رسمی کرواسیا در حوزه شنگن در جنوری ۲۰۲۳، شمار مهاجران عقب رانده شده از مرزهای این کشور کاهش یافته بود اما از ماه مارچ اخراج مهاجران دوباره افزایش یافته است.

در اپریل گذشته تعدادی از سازمان‌های خیریه در بوسنیا گزارش داده بودند که کرواسیا در ماه مارچ و اپریل شمار زیادی از مهاجران را در بس‌ها به بوسنیا اخراج کرده است .مقام‌های کرواسیا در آن زمان گفتند که این مهاجران بر اساس یک توافق دوجانبه به بوسنیا فرستاده شده‌اند.

## دریای اژه: نیروهای ترکیه و یونان حدود ۲۰۰ مهاجر را نجات دادند

مهاجر نیوز

نگهبانان ساحلی ترکیه می گویند که ۱۱۵ مهاجر را که توسط نیروهای یونانی در آب های بین یونان و ترکیه عقب رانده شده بودند، نجات داده‌اند. از سوی دیگر مقامات یونان نیز از نجات حدود ۸۰ نفر در آب‌های ساحلی این کشور خبر داده‌اند.

مقامات ترکیه روز پنجشنبه (۷ سپتامبر) گفتند که ۱۱۵ مهاجر را از آب‌های دریای اژه نجات داده اند. مقامات ادعا کردند که این مهاجران توسط نیروهای یونانی عقب رانده شده بودند.

به گفته نگهبانان ساحلی، نیروهای امدادی ۳۶ نفر را در آب های شهر بودروم در منطقه بوغلا و ۷۹ پناهجوی دیگر را در آب‌های شهرهای چشمه، سفری حصار و اورلا نجات داده‌اند. افراد نجات یافته به مراکز محلی پناهندگان منتقل شده‌اند.

**نجات پناهجویان در یونان**

از سوی دیگر مقامات یونان می گویند که دهها مهاجر را در آب‌های ساحلی این کشور نجات داده‌اند. گارد ساحلی یونان روز پنجشنبه اعلام کرد که ۲۳ مهاجر که سوار یک قایق کوچک بودند از آب های ساحلی لیسبوس نجات داده شدند و جستجو برای یافتن یک زن گمشده ادامه دارد.

در همین زمینه :نجات دهها مهاجر از آب‌های جزایر غربی و جنوبی یونان

این منبع افزود که آن‌ها در سه حادثه جداگانه ۵۰ مهاجر دیگر را از آب‌های ساحلی لیسبوس نجات داده‌اند.

مقامات همچنین گفتند که یک نفر به اتهام قاچاق مهاجران از ترکیه به یونان دستگیر شده است. بر اساس بیانیه نگهبانان ساحلی، فردی که سوار بر یک قایق گشتی بود قصد داشت به سمت آب‌های ترکیه فرار کند اما قایق واژگون شد و سربازان یونانی او را دستگیر کردند.

این در حالیست که یک سازکان خیریه مقامات یونانی را به زندانی کردن ناعادلانه پناهجویان به دلیل استفاده از قایق متهم می‌کند. مرکز حقوقی لسبوس روز سه شنبه در یک بیانیه مطبوعاتی اعلام کرد که یک پناهجوی ۲۵ساله افغان که به ناحق زندانی شده بود از سوی دولت یونان غرامت دریافت خواهد کرد. این فرد متهم بود که کشتی تعدادی از مهاجران را از ترکیه به جزیره لسبوس یونان هدایت کرده است.

در همین باره :یک پناهجوی افغان در یونان پس از آزادی از زندان غرامت دریافت می کند

**بیش از ۱۷ هزار مهاجر وارد یونان شده‌اند**

در دو ماه گذشته ورود مهاجران به جزایر شرقی یونان که در دریای اژه در نزدیک سواحل ترکیه قرار دارند، افزایش یافته است.

بر اساس آخرین آمار سازمان ملل متحد، از ابتدای سال جاری تاکنون بیش از ۱۷ هزار مهاجر از راه زمینی و آبی وارد یونان شده اند. نیمی از این رقم در ماه های جولای و آگست به یونان رسیده‌اند.

ترکیه، سازمان های مدافع مهاجران و رسانه‌ها، پیوسته یونان را به بدرفتاری با مهاجران و عقب راندن آنان از مرزهای این کشور متهم می‌کنند. اما با وجود شواهد، مقامات یونان همیشه این ادعاها را رد کرده‌اند.

## لغزش زمین در بدخشان 323 خانه را ویران کرده است

رادیو کلید

مقام‌های محلی می‌گویند که از اثر لغزش زمین در ولایت بدخشان، بیش از 300 منزل مسکونی تخریب شده است.



محمدکامگار، آمر ریاست مبارزه با حوادث طبیعی بدخشان می‌گوید که لغزش زمین در ولسوالی یاوان، از ساعت 11:00 قبل از ظهر روز پنج‌شنبه(16 سنبله)، آغاز و تا پایان روز جمعه ادامه داشت.

او می‌افزاید که در این رویداد 323 منزل مسکونی، به‌گونهٔ کامل تخریب شده است.

در مورد تلفات احتمالی ناشی از این رویداد، معلومات در دست نیست، اما به گفتهٔ مقام‌ها برای باشندگان محل سرپناه موقت در نظر گرفته شده است

## د سالنګ لویه لاره په سر له ننه تر نامعلومې نېټې پورې بنده وي

د آزادي راډيو



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




ارشيف: د سالنګ د لويې لارې يوه څنډه

**د هېواد په شمال کې د سالنګ لويه لاره به له نن څخه تر نامعلومې نېټې پورې بنده وي .**

د سالنګونو د ساتنې او څارنې رياست چې طالبان يې اداره کوي د دې کار علت د دې لويې لارې په اوږدو کې د بيارغونې د چارو پيل ښودلی دی.

د دې ادارې رييس عبدالحليم آغا پرون ازادي راډيو ته وويل، د سالنګ لويه لاره به د يکشنبې له ورځې څخه د ټولو مسافروړونکو او باروړونکو موټرو پرمخ بنده وي.

د سالنګونو د لويې لارې د بيارغونې چارې مخکې پيل شوې وې خو د طالبانو حکومت څو ورځې ويلي وو چې له نننۍ ورځې څخه وروسته به په تونل کې دننه د کانکرېټ اچولو چارې پيل شي.

له دې مخکې موټرو پر دې لويې لارې له دواړو خواوو څخه په نوبت سره تګ راتګ کاوه.

## مراکش کې مرګوني زلزله؛ د مړو شويو کسانو شمېر ۱۰۳۷ ته لوړ شوی

د آزادي راډيو




په مراکش کې له زلزلې وروسته د ژغورنې عملیات پیل شوي دي .

**په مراکش کې د وروستی سختې زلزلې له کبله د مړو کسانو شمېر ۱۰۳۷ ته لوړ شوی دی.**

د جمعې په ورځ د اګست په اتمه ماښام مهال د مراکش په نوم د مراکش تاریخي ښار سختې زلزلې ولړزاوه چې له زرو زیات کسان یې ووژل.

د دې زلزلې له کبله په اطلس غرونو کې د پرتو کلیو له کورونو نیولې د مراکش تر تاریخي ودانیو پورې زیانمنې شوې.

د زلزلې عیني شاهد د الکترونیکي چارو کارګر حسن بونا اسوشیټیډپریس خبري آژانس ته ویلي چې په لومړي سر کې یې د تالندې په څېر غږ واورېده او ورپسې یې کور پرېښوده او سړک ته راووت.

هغه وویل: "د تالندې په شان غږ مې واورېده چې د کور سخت ټکانونه ورسره وو خو له لسو پنځلسو ثانیو زیات وخت یې ونه نیوه. د مراکش په سلطنت کې به ښايي یوه سیمه له بلې سیمې سره توپیر لري".

د حسن بونا په وینا د سیمې خلکو ټوله شپه له کوره بهر په وېره کې تېره کړه.

دې زلزلې وروسته نور ټکانونه هم درلودل چې تر لومړۍ هغې کمزوري وو، خو ځینې هغه ودانۍ یې ونړولې چې په لومړۍ زلزله کې زیانمنې شوې وې.

د مراکش د کورنیوچارو وزارت پرون د اګست ۹مه اعلان وکړ چې دې زلزلې په نژدې ولایتونو کې لږترلږه ۸۲۰ کسان وژلي دي.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




دې زلزلې وروسته نور ټکانونه هم درلودل چې تر لومړۍ هغې کمزوري وو، خو ځینې هغه ودانۍ یې ونړولې چې په لومړۍ زلزله کې زیانمنې شوې وې .

همداراز سلګونه کسان چې په زلزله کې ټپیان شوي وو، د درملنې لپاره روغتونونو ته لېږدول شوي، خو چارواکي وايي، د پېښې د قربانیانو شمېر خورا زیات دی.

دوی اټکل کوي چې ښايي په دې شمېرو کې بدلون راشي.

د مراکش تلوېزیون پرون د زلزلې ځینې صحنې خپرې کړې چې خلک په وارخطا حالت کې ښيي.

په دې تصویریونو کې هغه خلک هم ښکارېدل چې خپل کورونه یې پرېښي او پر واټونو او سړکونو ژوند کوي.

د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال فدراسیون د نړیوالې بسپنې د څانګې مشرې کارولین هولټ ویلي چې له دې زلزلې د پاتې ژوندیو کسانو او د مړیو د موندلو لپاره ډېرو پېچلو او پراخو عملیاتو ته اړتیا لیدل کېږي.

مېرمن هولټ د نړېدلو ودانیو تر کنډوالو لاندې د مړیو او ټپي کسانو د راایستلو د عملیاتو لپاره راروان له ۴۸ څخه تر ۷۲ پورې ساعتونه خورا مهم او ټاکونکي وبلل.

د امریکا د جیولوژیکي سروې ادارې د معلوماتو له مخې دا زلزله په سیمه ییز وخت د شپې په یوولس باندې یوولسو بجو وشوه او قدرت یې د ریښتر په مقیاس ۶،۸ درجې و، ټکانونو یې څو ثانیې دوام وکړ او نولس دقیقې وروسته دوهمه تعقیبي زلزله هم ورپسې وه چې قدرت یې د ریښتر ۴،۹ درجې و.

دا زلزله په تېرو ۱۲۰ کلونو کې په مراکش کې تر ټولو زوروره زلزله وه.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*